د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

ګڼه: 420

(27 لړم – 03 لیندۍ 1402 هـ ش)

# روسیه او اسلامي امارت؛ د پالیسو بدلون او دوه اړخیزې موخې



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې گڼه کې لولئ:


- روسیه او اسلامي امارت؛ د پالیسو بدلون او دوه اړخیزې موخې ........................................ 3
- د افغانستان پر وړاندې د روسیې سیاسي لیدلوری ........................................ 3
- د روسیې موخې ........................................ 5
- د اسلامي امارت موخې ........................................ 7
- د اړیکو د پیاوړتیا هڅې ........................................ 7
- د دواړو لوریو د اړیکو د پیاوړتیا پر وړاندې ننګونې ........................................ 9
- پایله ........................................ 10
- وړاندیزونه ........................................ 11
- سرچینې ........................................ 12


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## روسيه او اسلامي امارت؛ د پالیسو بدلون او دوه اړخيزې موخې

### مقدمه

که څه هم روسيه او افغانستان ګاونډي هېوادونه نه ګڼل کېږي؛ خو د سيمه ييزې تړليتا پر اساس په دواړو هېوادونو کې هر ډول رامنځته کېدونکي حالات يو بل اغېزمنوي؛ با ثباته افغانستان نه يواځې د افغانستان بلکې د ګاونډيو هېوادونو په ګډون د روسيې ډېرى ګټې هم تضمينوي، همدې ټکو ته په کتو افغانستان د روسيې په بهرني سياست کې ځانګړې ځاى پيدا کړى دى؛ خو په افغانستان کې د بېلابېلو حکومتونو رامنځته کېدل، د دې لامل شوى چې دغه هېواد د افغانستان پر وړاندې يو ډول سياست تعقيب نه کړي؛ د ۲۰۰۱ ز.کال د سپټمبر د يوولسمې پېښې د مخه دې هېواد په افغانستان کې د حاکم اسلامي امارت سره نه يواځې داچې اړيکې نه لرلې؛ بلکې د امارت د پرمختګ پر وړاندې يې پراخ خنډونه هم رامنځته کول؛ کله چې د امريکا متحده ايالاتو پر افغانستان بريد وکړ؛ نو دغه مهال يې د اسلامي امارت پر وړاندې د جوړ شوي نړيوال ايتلاف سره مرسته وکړه؛ خو داچې د امريکا په مشرۍ نړيوال اتحاد په افغانستان کې بريالى نه شو؛ نو روسيې هم د افغانستان د مسايلو په اړه د نړيوال ايتلاف سره خپله لاره جلا او له اسلامي امارت سره يې اړيکې پيل کړې؛ په دې څېړنه کې به روښانه شي چې ولې روسيې د افغانستان اسلامي امارت سره اړيکې پيل کړې په داسې حال کې چې د اسلامي امارت د واکمنۍ په لومړۍ دوره کې يې نه يواځې داچې اړيکې ورسره نلرلې؛ بلکې په افغانستان کې د طالبانو په مشرۍ د اسلامي امارت پر وړاندې خنډونه هم رامنځته کول .

### د افغانستان پروړاندې د روسيې سياسي ليدلورى

عموماً په يوه هېواد کې بېلابېل عوامل او ليد لورى پر بهرنۍ تګلارې اغېزمنې کوى او مستقيماً يې رهبرى کوى. په روسيه کې د بهرني سياست په ډګر کې د افغانستان په اړه بېلابېل نظرونه شته چې په ټوليزه توګه په درېيو سياسي نظرونو وېشل شوي دي.د روسيې د بهرني سياست دستګاه هم په دې هېواد کې د افغانستان په اړه د بيلابيلو لېدلورو څخه د افغانستان پر وړاندې د بهرني سياست د جوړولو په برخه کې ګټه پورته کړې ده؛ عموما د افغانستان په اړه په دې هېواد کې درې سياسي ليدلورې شته دي .

**لومړى:** يو سياسي نظر دا دى چې د يو واحد افغانستان د پاتې کيدو امکان نشته، په دې هېواد کې قومي مخالفتونه له حده زيات دي او دغه اختلافات د دې لامل شوي چې په افغانستان کې واحده واکمني رامنځته نه شي؛ روسيه د دې توان نه لري چې د دې مخالفتونو په مهار کولو کې له دې هيواد سره مرسته وکړي؛ نو روسيې ته پکار ده چې د افغانستان د شمالي ولايتونو ته ډېره پاملرنه وکړي؛ که چيرې افغانستان په شمالي او جنوبي برخو کې وېشل کېږي؛ نو د دې لپاره چې د افغانستان نا امني د مرکزي اسيا له لارې روسيې باندې

اغېزې ونه کړي نو شمالي ولاياتو او د دې سيمو له سياسي شخصيتونو سر د امنيت په برخه کې مرسته وکړي ترڅو دغه ولايت د يو بفر په توګه د روسيې امنيت تضمين کړي .

د پورتني ليد لوري د ارزونې په برخه کې ويلی شو چې د روسيې بهرني سياست په افغانستان کې د کورنيو جګړو او وروسته د اسلامي امارت د لومړنۍ واکمنۍ پرمهال له دې سياسي ليدلوري اغېزمن وو؛ ځکه هغه مهال لومړی په افغانستان کې کورنۍ جګړې وې او له کورنيو جګړو وروسته اسلامي امارت د لومړي ځل لپاره واک ته ورسېد؛ روسانو هغه مهال د اسلامي امارت پر وړاندې د شمالي اتحاد سره ډېرې مرستې وکړې ترڅو په دې ولايتونو کې خپل نفوذ پياوړی او داسې اشخاص واک ته ورسوي چې د روسيې امنيت او ګټو ته د زيان رسولو د مخنيوي په برخه کې ورسره همکاري وکړي او دغه ولايتونه د يو بفر په توګه وکاروي.

**دوهم:** په روسيه کې د افغانستان په اړه بل سياسي ليدلوری داسې دی، چې د افغانستان مسايل بايد پردي وګڼل شي؛ دې هېواد ته د د روسيې د نړيوال باور د زياتوالي په موخه يواځې بشري مرستې وشي او روسيه په سمبوليکه توګه د دې هېواد په اقتصادي پروژو کې پانګونه وکړي؛ د دې نظر لرونکي زياتوي چې په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو شتون د روسيې ګټې تضمينوي او دغه هېواد بايد هر وخت په افغانستان کې د ترهګرۍ پر وړاندې په يواځې توګه اقدام ونه کړي او په دې برخه کې د له نړيوال ايتلاف سره يوځای مخ ته ولاړ شي.

که چيرې دغه ليد لوري ته پاملرنه وکړو؛ نو څرګنده به شي؛ چې له دې ليد لوري څخه د روسيې بهرنی سياست پر افغانستان د امريکا متحده ايالاتو پر مشرۍ د يرغل پر مهال ترې اغېزمن وو؛ نو ځکه يې پر افغانستان د امريکا متحده له يرغل ملاتړ وکړ او بېلابيل فرصتونه يې ورته برابر کړل. د روسيې ولسمشر ولادېميرپوتين د نړۍ له لومړيو مشرانو څخه وو چې د افغانستان پر وړاندې يې د امريکا د يرغل د ملاتړ ژمنه وکړه، دغه هېواد د امريکا پر مشرۍ نړيوال ايتلاف ته د استخباراتي معلوماتو د شريکولو، د فضايي حريم څخه د ګټې اخيستنې او په منځنۍ اسيا کې د امريکا د پوځي هډو جوړولو ژمنه وکړه[1] .

**درېيم:** د افغانستان په اړه د روسيې درېيمه کټه ګوري سياسي ليدلوری داسې دی چې په افغانستان کې يو پياوړی، مرکزي او واحد حکومت رامنځته کېدل د دې لامل ګرځي چې په افغانستان کې د مخدره توکو د قاچاق مخنيوي او د ترهګرۍ پر وړاندې جدي مبارزه وکړي؛ دغه ډله زياتوي چې دغه ډول حکومت چې بشپړه خپلواکي ولري کولای شي چې په افغانستان کې خپلمنځي مقاومتونه پای ته ورسوي او په افغانستان کې د بهرنيو پوځيانو د شتون پلمو ته د پای ټکی کېږدي.

که چېرې پورته سياسي ليد لوري ته دقت وشي؛ نو ډېرو مهمو ټکو ته يې اشاره کړې دي؛ حقيقت هم همدا دی چې په افغانستان کې خپلواک، مرکزي او واحد افغانستان کولای شي، نه يواځې د افغانستان، بلکې د ګاونډيو او سيمې هېوادونو د امنيت او ثبات په برخه کې مثبتې اغېزې وکړي.

داچې روسيې له افغانستان څخه دې هېواد ته د مخدره توکو د قاچاق مخنيوي او د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په موخه له نړيوال ايتلاف سره يوځای شوه؛ خو د وخت په تېرېدو نه يواځې داچې روسيې دغه موخې ترلاسه نه کړې؛ بلکې په دې اړه يې اندېښنې لا زياتې شوې؛ نو ځکه روسيې هڅه پيل کړه ترڅو په افغانستان کې د يوه داسې حکومت ملاتړ وکړي چې په افغانستان کې د روسيې د اندېښنو د لمنځه وړلو لپاره له دغه هېواد سره حقيقي مرسته وکړي؛ نو ځکه يې د له دې سياسي ليد لوري څخه اوسمهال د افغانستان په اړه په خپل بهرني سياست کې ګټه پورته کړې او د افغانستان اسلامي امارت سره يې د بياځلي لپاره اړيکې پيل کړي دي؛ دا هم ويلای شو چې روسيې د اسلامي امارت پر وړاندې خپل سياسي تعريف ته بدلون ورکړی او اوسمهال په دې پوه شوي چې طالبان په افغانستان کې پراخ نفوذ لري او د دې ډلې له ګډون پرته په دغه هېواد کې بل حکومت دوام نشي کولای؛ نو ځکه يې د اسلامی امارت بيا واکمنېدو سره سم يې له افغانستان سره اړيکې پيل کړې. سربېره پر دې په بهرني اړخ کې دا هم ور اضافه کولای شو چې کله چې په ۲۰۱۴ ز.کال کې د اوکراين د مسلې پر سر د روسيې او لويديځ اړيکې ترينګلې شوې او له بلې خوا دغه مهال په افغانستان کې د اسلامي دولت د خراسان څانګې په افغانستان کې فعاليتونه پيل کړل؛ نو روسيه د خپلو امنيتي او جيوپولېټيکي اندېښنو د رفع کولو په موخه خپل پخواني تصور ته بدلون ورکړ او له طالبانو سره يې اړيکې پياوړې کړې. مسکو په دې باور دی چې طالبان له افغانستان باندې کوم موخه نلري په داسې حال کې چې د اسلامی دولت ډله د سيمې او نړۍ امنيت ته ګواښ پېښوي، روسيه باور لري چې اسلامي امارت تر بلې هرې ډلې د اسلامي دولت يا داعش پر وړاندې اغېزمنه مبارزه کولای شي؛ نو ځکه روسيه د اسلامي امارت ملاتړ منطقي ګڼي، لکه څرنګه چې د افغانستان لپاره د دې هېواد ځانګړي استازي ضمير کابلوف وويل: (( طالبان په افغانستان کې د هغو خلکو پر وړاندې جنګېږي چې موږ ورسره سوريه کې جنګېدلو؛ له همدې کبله زموږ ګټې سره ورته دي)). [2]

**د روسيې موخې**

د افغانستان جيوپولېټک موقعيت د دې سبب ګرځېدلی؛ ترڅو د نورو نړۍ ترڅنګ د روسيې چې د مرکزي اسيا له لارې له افغانستان سره نښلېږي، پاملرنه ځانته را واړوي، ځکه چې افغانستان د جيوپولېټيک ټکي له اړخه کولای شي چې روسيه د مرکزي اسيا له لارې له سويلي اسيا سره ونښلوي؛ نو ځکه ويلای شو چې پر افغانستان کې هر ډول حالات د روسيې په ګټو اغيزه کوي؛ که چيرې دغه حالات مثبت وي؛ نو لېږې نه ده چې روسيه به نه يواځې له امنيتي اړخه ډاډمن وي بلکې له اقتصادي اړخه به د افغانستان د جغرافيې څخه چې د سويلي اسيا او مرکزي اسيا د نښلولو برخه کې مهم رول لري ګټه ترلاسه کړي او سربېره پر دې به د مخدره توکو د قاچاق په برخه کې چې له افغانستان چې دغه هېواد ته لېږدول کېدل؛ مخه ونيول شي. له بله اړخه که چيرې دغه حالات منفي لوري ته لاړ شي؛ نو لکه څرنګه چې پورته مو يادونه وکړه د روسيې ټولې ګټې له ګواښ سره مخ کېږي. له بلې خوا د مرکزي اسيا له يو شمېر هېوادونو سره روسيه د ټولنيز امنيت


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

تړون سازمان کې غړیتوب لري او د دې تړون موخه په بېلابېلو برخو کې څپلمنځي همکارۍ دي، چې پوځي مرستې په کې هم شاملې دي؛ د دې سازمان د اساسنامې د احکامو پر بنسټ غړي هېوادونه مکلف دي ترڅو یو سره همکاري وکړي؛ نو همدې ټکي ته په کتو د روسیې یوه موخه داده ترڅو د افغانستان څخه ډاډ ترلاسه ترڅو د دې سازمان د غړو هېوادونو چې له افغانستان سره نږدې پراته دي پر امنیت یې مثبتې اغېزې وکړي. روسیه هڅه کوي چې له یوې خوا په افغانستان کې د سیمه ییزو سازمانونو چې روسیه په کې ډېر نفوذ لري خپلې موخې ترلاسه کړي د دې سازمانونو له ډلې څخه د CSTO یا د ګډ امنیتي تړون سازمان، د شانګهای سازمان یا SCO او د مسکو فارمټ دی چې په کې د روسیې، چین، پاکستان، افغانستان، ایران، ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان د بهرنیو چارو وزیرانو او ملي امنیت سلاکارانو غونډې شاملې دي. لکه څرنګه مو چې پورته یادونه وکړه روسیه د ګډ امنیتي سازمان د غړون هېوادونو (روسیې، قزاقستان، قېرغېزستان، ارمنستان، بلاروس او تاجکستان) سره یوځای د ۲۰۲۱ز.کال د اکتوبر میاشتې په ۱۸مه نېټه په تاجکستان پوځي تمرینونه ترسره کړل.[3] داسې فکر کېږي چې د دې سازمان د غړو هېوادونو له لوري له افغانستان سره د دې سازمان د ګټې پولې لرونکې هېواد تاجکستان کې د پوځي تمرینونو ترسره کول له افغانستان څخه د امنیتي ګواښونو د کمولو او بې اغېزې کولو په موخه شوي دي. سربېره پر دې د شانګهای کنفرانس په ناسته کې چې روسیه په کې غړیتوب لري هم په افغانستان کې د امنیت او ثبات په اړه خبرې وشوې او د مسکو فارمټ په وروستۍ ناسته کې چې د روسیې په ګډون چین، پاکستان، ایران، هندوستان، قزاقستان او قېرغیزستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان په کې ګډون لاره او د افغانستان اسلامي امارت په استازیتوب په کې د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقی ګډون کړی وو؛ د روسیې په ګډون ټولو ګډونوالو له طالبانو د ټولګډونه حکومت د جوړېد او د بشر حقوقو د رعایت غوښتنه وکړه؛ په دې غونډه کې د عربستان، قطر او ترکیې استازو ته هم د ګډون بلنه ورکړل شوې وه. [4]

له بلې خوا روسیه هڅه کوي له یو شمېر هېوادونو سره په ګډه له افغانستان څخه دې هېواد ته د ګواښونو د کمولو په موخه کار وکړي، د بېلګې په توګه په دې وروستیو روسیې له هند سره امنیتي همکارۍ زیاتې کړې دي؛ ترڅو وکولای شي د هغو ګواښونو په اړه چې له افغانستان څخه دغو دواړو هېوادونو ته متوجه دي مبارزه وکړي، په دې اړه په نوي ډهلي کې د روسیې سفیر نیکولای کوداشوف د ۲۰۲۱ز.کال د سپټمبر میاشت کې ویلي وو: (( مسکو او نوی ډهلی دواړه له افغانستان څخه د ترهګرۍ د سرایت څخه اندېښنه لري، ځکه چې دغه وضعیت مرکزي اسیا او کشمیر ته ګواښ ګڼل کېږي))، سربېره پر دې د هند د ملي امنیت شورا سلاکار اجیت دوال له خپل روسي سیال نیکولای پاتروچوف سره د ترهګرۍ او مخدره توکو د قاچاق د مخنیوي په برخه کې د دوه اړخیزو همکاریو د پراختیا په اړه خبرې وکړې[5]. د افغانستان په اړه دغه همکارۍ نه یواځې له هند سره ترسره شوي دي؛ بلکې دغه هېواد په ۰۵/۰۸/۲۰۲۱ نېټه ازبکستان او تاجکستان سره هم پوځي تمرینونه ترسره کړل چې په کې د دې دریو هېوادونو له ۲۵۰۰ تنو ډېرو سرتېرو ګډون کړی وو. [6]

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

### د اسلامي امارت موخې

د افغانستان اسلامی امارت هم روسیې سره په اړیکو جوړولو کې له یوې خوا سیاسي موخې او له بلې خوا اقتصادي موخې تعقیبوي؛ په سیاسي برخه کې اسلامي امارت هڅه کوي چې په نړیواله ټولنه کې مدغم شي او نړیوال مشروعیت ترلاسه کړي او هڅه کوي چې نورو هېوادونو ته دا ډاډ ورکړي چې دوی کولای شي د افغانستان د امنیت ترخنګ نورو هېوادونو ته له افغانستان څخه د پېښېدونکو ګواښونو مخنیوي وکړي؛ دغه چاره د نړۍ د ځواکمنو هېوادونو سره د اړیکو په جوړولو کې بریالۍ کېدای شي؛ نو ځکه اسلامي امارت هڅه کوي ترڅو روسیې سره پیاوړې سیاسي اړیکې رامنځته کړي ترڅو پر اساس یې د روسیې سربېره د نورو هغو هېوادونو چې د روسیې سره ښې اړیکې لري پاملرنه د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په برخه کې را واړوي. له اقتصادي اړخه افغانستان وارداتي هېواد شمېرل کېږي؛ نو په سیمه کې روسیه هغه هېواد دی چې کولای شي افغانستان سره په یو شمېر اقتصادي اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې رغنده رول ترسره کړي؛ نو دغه ټکی هم د دې سبب ګرځېدلی چې اسلامي امارت د له روسیې سره د اړیکو ټینګولو لېوالتیا زیاته کړي.

### د اړیکو د پیاوړتیا هڅې

په ۲۰۲۱ ز.کال کله چې په افغانستان کې پخواني جمهوري نظام ړنګ او واګې د اسلامي امارت لاسته ورغلې، دغه مهال د امریکا متحده ایالاتو ځواکونه له افغانستان څخه ووتل؛ نو روسیې فکر وکړ چې یو ستراتېژیک فرصت یې په افغانستان کې د پښې ایښودلو په موخه ترلاسه کړی دی؛ نو ځکه یې هڅه پیل کړه ترڅو په افغانستان کې د یو شمېر هغو ډلو او اشخاصو چې د دوی تر نفوذ لاندې دي له اسلامي امارت سره په ګډه یو ایتلافي حکومت رامنځته کړي،په همدې موخه د ۲۰۲۱ ز.کال د اکتوبر میاشت کې د دې هېواد د بهرنیو چارو وزیر وویل چې روسیه به تر هغه وخته چې اسلامي امارت خپلې ژمنې چې د سیاسي او قومي مشارکت پر اساس به حکومت رامنځته کوي، رامنځته نه کړي دوی به په رسمیت ونه پېژندل شي. خو لکه څرنګه چې اسلامي امارت تل په ډاګه کړې چې له یوې خوا د افغانستان اوسنی حکومت ټول ګډونه دی او له بلې خوا د حکومت رامنځته کول د دوی کورنی موضوع ده او هیڅ بهرنی هېواد حق نلري چې په دې برخه کې د اسلامي امارت ته فرمایشونه ورکړي. داچې د اسلامي امارت له لوري په دې اړه په نړیوال ستیج کې تر دې دمه بدلون نه دی راغلی؛ نو ځکه روسیه اړه شوه ترڅو په خپل دې پلان کار وکړي، دغه هېواد د ۲۰۲۲ کال د جنوري میاشت کې له اسلامي امارت سره په عملي تعامل ټینګار وکړ سربېره پر دې د دې هېواد ولسمشر ولادېمیر پوتین د تاجکستان له ولسمشر سره په یوې لیدنه کې وویل چې هېواد یې هڅه کوي چې د اسلامي امارت سره خپلې اړیکې پیاوړې کړي. د همدې کال د اپریل میاشت کې یې په مسکو کې د افغانستان سفارت د طالبانو استازو ته وسپاره؛ د یادونې وړ دی چې د دغه هېواد سفارت هم تر دې دمه په کابل کې فعال دی او د روسي ډیپلوماتان یې چارې مخ ته وړي. دې پلان ته د روسیې مخه کول یا له اسلامي

امارت سره رغنده تعامل شاید د اسلامی امارت له لوري په افغانستان کې د سرتاسري امنیت تامینولو او په ښه شکل د دې هېواد اداره کولو له امله وي؛ ځکه چې په افغانستان کې د امنیت تامینول هغه ګواښونه لمنځه وړي چې روسیه یې د مرکزي اسیا پر وړاندې له افغانستان څخه تصور کوي. سر بېره پر دې کله چې روسیې پر اوکراین برید وکړ او د لوېدیځو هېوادونو له غبرګون سره مخ شوه؛ نو هڅه یې پیل کړه چې په سیاسي، اقتصادي او پوځي برخه کې د لوېدیځو هېوادونو پر وړاندې د سیمې د هېوادونو همغږي رامنځته کړي؛ نو داچې د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همغږۍ په رامنځته کېدو کې د افغانستان پر رول سترګې نشي پټېدلای؛ نو دغه لامل هم د دې بې پلان ته د روسیې په مخه کولو کې ستر رول ترسره کړ.

د روسیې له لوري بې پلان ته مخه کول هغه مهال لړخه ټکنی شو چې د ۲۰۲۲ کال د سپټمبر میاشت کې په کابل کې د دې هېواد په سفارت د داعش تکفیري ډلې له لوري برید ترسره شو چې په دې برید کې د سفارت دوه کارکوونکي او څلور ملکي افغانان ووژل شول.[7] له دې برید وروسته د افغانستان په اړه د روسیې هیلې کم رنګې شوې؛ نو ځکه د روان کال د اپریل میاشتې په ۲۸ نېټه په ډهلي کې د شانګهای د همکاریو سازمان د دفاع وزیرانو په غونډه کې د روسیې د دفاع وزیر سرګې شویګو هغه ګواښونو ته اشاره وکړه چې د ده له نظره له افغانستان څخه مرکزي اسیا هېوادونو ته متوجه دي، ده د شانګهای په ټولو غړو هېوادونو غږ وکړ چې د ترهګرۍ پر وړاندې د همغږي او ګډې هڅې زیاتې کړي، هغه زیاته کړه چې په افغانستان کې د اسلامي دولت یا داعش، د ازبکستان اسلامي تحریک، القاعده او د شرقي ترکستان اسلامي تحریک په څېر د نورو نړیوالو ترهګرو د نفوذ احتمال زیاتېږي.[8] د روسیې د دفاع وزیر دغه څرګندونې د اسلامي امارت د ویاند ذبیح الله مجاهد له لوري رد شوې نوموړي ووېل چې د روسیې چارواکي باید په دې پوه شي چې په تیرو دوه کالونو کې د افغانستان له لوري د سیمې او نړۍ هېوادونو ته کوم ګواښ نه دی رامنځته شوی؛ همدارنګه اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر هم د روان کال په فبروري میاشت کې د روسیې هغه تورونه رد کړل چې د دوی په فکر د افغانستان په شمال کې د داعش زر ګونه وسله وال را ټول شوي او د مرکزي اسیا د هېوادونو امنیت ګواښوي.

سره له دې چې دغه مهال د روسیې د هیلو پر وړاندې پر کابل کې د روسیې پر سفارت د داعش حملې سیوری رامنځته کړ؛ خو بیا هم دغه هېواد له اسلامي امارت سره پر تعامل پر مخ روان شو؛ نو ځکه یې د روان کال د مې میاشت کې اسلامي امارت یوه پلاوي ته بلنه ورکړه ترڅو د روسیې ـ اسلامي نړیوال اقتصادي فورم کې چې د دې هېواد په کازان کورواکه جمهوریت کې ترسره کېده ګډون وکړي، په دې کنفرانس کې د اسلامي امارت پلاوي د سوداګرۍ وزارت د سرپرست نورالدین عزیزي په مشرۍ ګډون وکړ، دغه پلاوي د غونډې په څنډو کې د روسیې ترڅنګ د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان له غړو سره په افغانستان کې د سوداګرۍ د ظرفیت او اقتصادي فرصتونو په اړه خبرې وکړې. دغه فورم چې د روان کال د مې میاشتې په ۱۸ مه او ۱۹ مه نېټه ترسره شو؛ موخه یې د روسیې او اسلامي همکاریو سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ د

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

سوداګریزو، اقتصادي، علمي، تخنیکي، ټولنیزو اړیکو پیاوړتیا ده چې د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۹ کال کې ترسره شوی وه.[9]

په عمومي ډول ویلای شو چې روسیه اوسمهال هڅه کوي ترڅو له یوې خوا د هغه منفي اغیز چې پر افغانستان د شوروي اتحاد د یرغل راهیستې د دغه هېواد پر وړاندې په افغانانو کې شته دی له منځه یوسي او اوسمهال له افغانستان سره د مخدره مواد د قاچاق د مخنیوي، امنیتي اندېښنو د له منځه وړلو او اقتصادي برخه کې ښکیله شي؛ ځکه چې روسیه له یوې خوا غواړي افغانستان ته ګاز،تېل، خوراکي توکي، درمل او ماشین الات صادر کړي او د معدنونو په استخراج، سرک جوړونه، د انرژۍ د تولید، بندونو او اوسپنې پټلۍ په برخه کې پانګونه وکړي او له بلې خوا له افغانستان سره د اقتصادي اړیکو په پیاوړتیا سویلي اسیا ته صادرات پیل کړي؛ ځکه چې د سویلي اسیا هېوادونه دې برخې کې روسیې ته اړتیا لري او دغه اړتیا هغه مهال پوره کېدای شي چې دواړه لوري له افغانستان سره پیاوړې اړیکې ولري ترڅو افغانستان د یوه پله په توګه وکاروي.

### د دواړو لوریو د اړیکو د پیاوړتیا پر وړاندې ننګونې

یو شمېر هغه ننګونې چې د دواړو هېوادونو د اړیکو د پیاوړتیا پر وړاندې یې خنډونه رامنځته کړي شته دي چې تر دې دمه ورته د حل لیارې نه دي رامنځته شوې؛ موږ دغه ننګونې په لاندې توګه په ګوته کوو؛ بیا هم دلته د وړاندیز په توګه ذکر کوو چې دواړه لوري د هڅه وکړي چې په خپله برخه کې د پرتو ننګونو په اړه جدي اقدامات ترسره کړي، ترڅو دغه اړیکې پیاوړې او دواړه هېوادونه وکولای شي یو د بل فرصتونو څخه پوره ګټه پورته کړي.

۱ ـ روسیې په ۲۰۰۳ز.کال کې طالبان یوه ترهګریزه ډله بللې ده او تر دې دمه یې چې ایا دوی غواړي له دې لېست څخه طالبان ووځي هیڅ عملي اقدامات نه دي ترسره شوي. که چیرې واقعا روسیه غواړي د اسلامي امارت سره له نږدې کار وکړي او هغه اندېښنې چې دوی یې له افغانستان څخه لري؛ نو افغانستان کې د اسلامي امارت ته د یوه مسول حکومت په توګه نظر وکړي او تر ټولو لومړۍ د دغه نوم له اسلامي امارت څخه لېرې کړي. د یادونې وړ ده چې د روسیې ولسمشر د طالبانو سره د لېدنې پرمهال ژمنه کړې چې د دې ډلې نوم به د ترهګرو له لېست څخه لېرې کړي.

۲ ـ که څه هم روسیې په مسکو کې د افغانستان سفارت د اسلامي امارت استازو ته سپارلی خو تر دې دمه یې د افغانستان اسلامی امارت په رسمیت نه دی پېژندلی؛ د رسمیت نه پېژندل نه یواځې د داړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو په برخه کې حقوقي ستونزې رامنځته کوي؛ بلکې د اړیکو لا پیاوړتیا لپاره مهم خنډ ګرځي او سربېره پر دې په دې برخه کې د نورو هېوادونو اقدامات له خنډ او ځنډ سره مخ کوي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

۳ ـ په افغانستان کې د جامع اساسي قانون نه شتون: اسلامي امارت که څه هم په دې برخه کې یادونه کړې چې دوی به اساسي قانون ترتیب کړي خو تر دې دمه یې نه دی توانېدلی چې یو مدون اساسي قانون چې په هغه کې د هېواد ټولو مهمو مسایلو ته ځانګړې تعریفونه شوي وي نه دی رامنځته کړی؛ دغه ټکی د دې سبب ګرځېدلی چې د رسمیت پېژندنې په برخه کې لوی خنډ رامنځته شي؛ کله چې د هېوادونو ترمنځ رسمي اړیکې موجودې نه وي؛ نو حتمي دی چې اړیکې په مطلوبه توګه نه پالل کېږي.

۴ ـ که څه هم اسلامی امارت توانېدلی چې د داعش پر وړاندې بریالۍ مبارزه وکړي؛ خو داچې ځینې مهال د دې ډلې له لوري یو شمېر چاودنې ترسره کېږي؛ نو د روسیې ترڅنګ د نورو هېوادونو امنیتي اندېښنې یې رامنځته کړې او دا اندېښنې د دې سبب ګرځېدلې چې د دواړو هېوادونو اړیکو پر وړاندې سیورى و غړوي.

۵ ـ که څه هم اسلامي امارت تل په ډاګه کړې چې د افغانستان خاوره به د هیڅ یوې ډلې له لوري د بل هېواد پر ضد ونه کارول شي؛ خو د دې لپاره چې په دې برخه کې د نورو هېوادونو باور ترلاسه شي؛ وخت ته اړتیا لېدل کېږي؛ نو اوس مهال په دې برخه کې د کم باور شتون د دواړو هېوادونو  اړیکو پر وړاندې یوه ننګونه ګڼل کېږي.

٦ – بله مهمه ننګونه چې د روسیې او اسلامي امارت ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا په برخه کې پرته ده؛ هغه افغانستان ته د لوېدیځو هېوادونو په ځانګړې توګه د امریکا متحده ایالاتو بشر دوستانه مرستې دي؛ دغه مرستو ته د روسیې له لوري د شک په سترګه کتل کېږي. که څه هم اسلامي امارت د بهرنی سیاست په برخې کې د بې طرفۍ اعلان کړی دی؛ نو بیا هم د باور جوړونې او شک د لېرې کېدو په موخه لازم وخت ته اړتیا لري؛ ترڅو دواړه هېوادونه د ګډه ناستو په برخه کې یو بل ته قناعت ورکړي او د باور فضا رامنځته کړي.

**پایله**

د تېرو کلو په اوږدو کې د روسیې او اسلامي امارت اړیکې له دښمنۍ څخه د دوستۍ او همکارۍ لوري ته اووښتې دي؛ ځکه چې روسیې درک کړې ده چې په افغانستان کې د دغه هېواد نړیوال سیال په مشرۍ د ګډ ایتلاف په ملاتړ رامنځته شوي حکومت او بهرنیو ملاتړو یې نه یواځې په افغانستان کې د روسیې ګټې خوندي نه کړې بلکې د دغه هېواد اندېښنې یې لا زیاتې کړې؛ د تېرو کلونو په اوږدو کې په افغانستان کې د لویدېیځ په ملاتړ رامنځته شوي حکومت ونه شو کولای چې له افغانستان څخه روسیې ته د مخدره توکو د قاچاق مخنیوی وکړي او هم له افغانستان څخه روسیې او مرکزي اسیا ته د ترهګریزو ګواښونو د لېږد مخنیوی وکړي؛ له بلې خوا په افغانستان کې د داعش ترهګرې ډلې رامنځته کېدل هغه اندېښنې وې چې دغه هېواد یې اړ کړل ترڅو له اسلامي امارت سره خپلې اړیکې بیرته پیل او پیاوړې کړی؛ تر څو دغه دواړه هېوادونه دغه ګډه اندېښنې پر وړاندې په ګډه مبارزه وکړي. داچې د نړیوالو راپورونو له مخې اوسمهال په افغانستان کې د مخدره توکو د کرکیلې کچه تر ۹۰ سلنې کمه شوې او له بلې خوا د داعش ډلې فعالیتونو

پر وړاندې د افغانستان اسلامي امارت مبارزه رغنده او بريالۍ ده؛ نو ځکه دغه دوه ټکي د دواړو هېوادونو د اړيکو پر پیاوړتیا مثبتې اغيزې کړې دي.

**وړاندیزونه**

د دې تحلیل په پای کې لاندې وړاندیزونه لرو.

۱ ـ د افغانستان اسلامي امارت د د مخدره توکو د قاچاق د مخنیوي په برخه کې ځانګړې پوله ساتي ځواکونو و روزي ترڅو د مخدره توکو د قاچاق د مخنیوي په برخه کې لا اغیزمنه دنده ترسره کړي.

۲ ـ د افغانستان اسلامي امارت د د روسیې او مرکزي اسیا هېوادونو سره امنیتي اړیکې او همکارۍ پیاوړې کړي؛ ترڅو د هغو اندېښنو په اړه چې دغه هېوادونه يې له افغانستان څخه لري، باوري او اغېزمنه مبارزه وشي .

۳ ـ د افغانستان اسلامي د ترڅو د ډیپلوماسۍ له لارې روسیه وهڅوي ترڅو د افغانستان د کرهنې له سکټور سره د کرهنې د عصري کولو په برخه کې خپلې تجربې شریکې او بزګرانو سره د کوکنارو د بدیل په برخه کې مرستې وکړي. سربېره پر دې د روسان وهڅوي ترڅو د افغانستان په سرک جوړونه، معدنونو کېندلو، بندونو او نورو سترو پروژو کې سهم واخلي.

۴ ـ لکه څرنګه چې د حماس او اسراییلو له وروستۍ جګړې وروسته د امریکا متحده ایالاتو او اسلامي نړۍ اړیکې ترینګلې شوې دي؛ دغه مهال د نورو اسلامي هېوادنو ترڅنګ د افغانستان او روسیې اړیکو پیاوړتیا ته لا ډیره اړتیا لیدل کېږي؛ نو اسلامي امارت د هم له روسیې سره اړیکو پیاوړې کولو ته پاملرنه زیاته کړي.

۵ ـ اسلامي امارت دې هڅه وکړي؛ ترڅو د هغو خنډونو په اړه عملي اقدامات ترسره او حل لارې ورته پیدا کړي چې د اسلامي امارت او نورو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا په برخه کې موجودې دي؛ ترڅو د حکومت رسمیت پېژندنې ته لاره هواره کړي ترڅو اسلامي امارت په نړیواله ټولنه کې خپل موقف ترلاسه او په رسمیت وپېژندل شي. **پای**

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## سرچينې

1 Rise to peace, The Evolving Russian-Taliban Relations, available at: The Evolving Russian-Taliban Relations - Rise to Peace

2 Rise to peace, The Evolving Russian-Taliban Relations, available at: The Evolving Russian-Taliban Relations - Rise to Peace

[3] بي، بي، سي، فارسی. رزمایش پیمان امنیت دست جمعی در نزدیکی مرز با افغانستان، د نشر نېټه ۲۲/اکتوبر/۲۰۲۱، د لاس رسي لینک: رزمایش پیمان امنیت جمعی در نزدیکی مرز افغانستان - BBC Newsفارسی

4 ډي، ډبلیو. برگزاری نشست فارمت مسکو با حضور وزیر خارجه طالبان در کازان، د نشر نېټه ۷/۷/۱۴۰۲، د لاس رسي لینک: برگزاری نشست فارمت مسکو با حضور وزیر خارجه طالبان در کازان – DW – ۷/۷/۱۴۰۲

5Ramani, Samuel, RUSI, Russia and the Taliban: Prospective Partners? Published date:14/Sep/2021, available at: Russia and the Taliban: Prospective Partners? | Royal United Services Institute (rusi.org)

[6] خبرگزاري اناتولی، رزمایش مشترک روسیه، ازبکستان و تاجکستان در مرز با افغانستان، د نشر نېټه ۰٦/۰۸/۲۰۲۱، د لاس رسي لینک: رزمایش مشترک روسیه، ازبکستان و تاجیکستان در مرز با افغانستان (aa.com.tr)

8 اراف ای، وزیر دفاع روسیه: سازمان‌های تروریستی بین‌المللی مستقر در افغانستان، به کشورهای همسایه نفوذ کرده‌اند، د نشر نېټه ۲۸/۴/۲۰۲۳، د لاس رسي لینک: وزیر دفاع روسیه: سازمان‌های تروریستی بین‌المللی مستقر در افغانستان، به کشورهای همسایه نفوذ کرده‌اند(rfi.fr)

9 Tass, Russian New Agency, Taliban delegation to take part in Russia —- Islamic World forum in Kazan, published date: 17/May/2023, available at: Taliban delegation to take part in Russia —- Islamic World forum in Kazan - Russian Politics & Diplomacy - TASS

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارگان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.


**اړيکه:**

ايميل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سايت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمېره: +93780618000 +93780618000